# کاظم خان شیدا

- د کاظم خان شیدا د ژوند په هکله لنډ معلومات:
- کاظم خان شیدا د افضل خان خټک زوی، د اشرف خان لمسی / نمسی، د خوشحال خان کړوسی وو.
- د زیږیدو نیټه یې حبیبي صاحب په پښتانه شعرا کښې ۱۱۳۵ ه لیکلې ده.
- خو په نورو اثارو کښې د ۱۱۳۵ او ۱۱۴۰ تر مینځ اټکل سوی دی.
- کلی، سرای، او افضل اباد
- په ځواني کښې له خپل ټاټوبي څخه و هندوستان ته ولاړ.

# کاظم خان شیدا

- د مجمع الانساب د لیک له مخه کاظم خان د اسد الله خان سکنی ورور دی او اسد الله خان د ۱۱۱۹ هجري ق کال شاوخوا زیږیدلی.
- شیدا د حنفي مذهب، د نقشبندیه طریقې صوفي وو.او د پیر غلام معصوم مرید وو. شیدا داسي وائي:
- پیرمې شاه د ولایت غلام معصوم دی مقتدا د زمانې قطب الرجال
- بل ځای وائي: لکه نمر په جهان سلوم دی زما پیر غلام معصوم دی
- خوله یوې خوا د ده له سرداری او جاګیر سره مینه نه وه، او له بله پلوه د خانی او سرداری په سر د دوی کورنۍ شخړې ناوړه حال ته رسیدلې وې، نوځکه ده په ځواني کښې وطن پرېښود او د هند مسافر سو، دې پیښو ته د ده په دیوان کې تلمیحي اشارې شوې دي.

# کاظم خان شیدا

- د کاظم خان ورور اسد الله خان د ده د وراره لښکر خان په لاس ووژل سو او هم دې پېښې کاظم خان ډېر دردولی او ژړولی دی: د دې اظهار په یوه شعر کښې داسي کوي:
- له حب جاهه په زړه کې سوړیم　　د ملنګۍ و کار ته جوړیم
- سر مې خوړلی د شرین ورور دی　　له زندګۍ تر حلقه موړیم
- د شیدا شعر و شاعري په پښتو ادب کښې ځانګړی او منفرد مقام لري.
- سید الرحمن سید کاکاخېل په یوه لیکنه کښې وائي چي کاظم خان شیدا واده نه و کړئ.
- شیدا د نواب محمد فیض الله خان په عهد کښې د میاشتې زرو روپو نوکري درلوده.

# د کاظم خان شیدا مړینه

- په تذکره کاملان رام پور کښې د شیدا د مرګ تاریخ په شعرونو کښې داسي ورکړل شوی دی، چې د هغوځخه د ده د مړینې کال ۱۱۹۴ ه / ۱۷۸۰ راوځي. هغه شعرونه دا دي:

شیده په اشیانه کې جهان تریخ شه
د کباب غوندې یې کون و مکان تریخ شه
درست بدن یې ګویا زړه دی په سینه کې
(دل نظیر) هم د کاظم د مرګه تاریخ شه

# د کاظم خان شېدا او تصوف

- ډاکټر کلیم شنواری په یوه تحقیقي لیکنه – کاظم خان شېدا او وجودي تصوف – تر سرلیک لاندي لیکي:
- شیدا په عملي توګه د تصوف په مېدان کښې داخل و، او هغه د حضرت مجدد الف ثاني (شېخ احمد سرهندي) په نقشبندیه سلسله کښې د پیر غلام معصوم مرید و. کومه چي د شهودي توحید نمائنده سلسله ده.
- خو د نقادانو دا خیال دی چي شېدا د وحدت الوجود قائل او علمبردار وو. او په شاعري کښې یې د وجودي توحید ډېر اشعار موندلی شو.
- دلته په لاندي شعرونو کښې د کاظم خان شېدا د وجودي توحید څرک لټوو.

# د کاظم خان شیدا او وحدت الوجود

- نمایان په خاص و عام لکه ذره شي — چې نظر په کم و لوی لکه افتاب کا
- د حباب په شان تمام له شرمه اب شي — که یې لرې چرې باد د مخ نقاب که

- بل ځای وائي
- د وحدت جلوه په زړه د مشرک څه کا — د یوه لیده محال دی په احوال

- په دې شعر کښې شیدا وائي چې د وحدت لیدل د مشرک لپاره ګرانه ده، ځکه چې یو څوک چې پخپل زړه کښې څو څو شیانو ته ځای ورکوي هغه د یوه وجود وجدیت څنګه زغملی شي.

# کاظم خان شیدا او وحدت الوجود

- چي روښن ئې په انوار تمام جهان شه　　　لائې پروت لکه افتاب په مخ نقاب دی

- په دی شعر کښي شیدا په ډیرو واضح تورو باندي د وجودي توحید خبره کوي، یعني د یوه وجود خبره کوي. وائي د ده (اللّٰه پاک) د نور ځخه ټول جهان روښانه سو، خو د ده پر مخ تر اوسه پوري نقاب لکه د لمر غوړیدلی دی.

د وحدت الوجود نور شعرونه

- مدرسه د زړه خالي بویه له غیره　　　تابه کی به دي تکرار د عمرو زید وی
- تعین ئې د نفس اوځي له میانه　　　تابه کی سر اماسي د حباب ځاځکی

# کاظم خان شیدا او وحدت الشهود

- کاظم خان ټول اووه (۷) منقبات لیکلي دي، چې دی کښې یو د وحدت الشهود د نظریې د یوه داعي مجدد الف ثاني په عقیدت کښې وئیل شوی دی. دلته یې څو شعرونه وړاندې کوو:

- چې سر هندې پاک مولا دی — مجدد شیخ احمد دی
- په تجدید یې عالم ستائې — دا منصب ورباندي ښاي
- په وجود یې دین تازه — دین تازه یقین تازه شو

په دغه منقبت کښې شیدا د وحدت الشهود په اړه داسي وائي:

هیڅ خفي نه دی جلي دی — په نصیب د دې ولي دی